




ايمل « مرٍوند »
د نشر نېټه : ۱۳ مې ۲۰۱۳ ميلادى

# واده تيار دى

ختيځ ادبي بهير ملګرو د خپلو پرله پسې اونيزو غونډو په لړ کې دا اونۍ په خپله ۴۳ مه غونډه کې د باز محمد عابد د (واده تيار دى ) تر سرليک لاندې په لنډه کيسه کرکتنه وکړه.
غونډه چې د ۱۳۹۲ کال د غويي د مياشتې پر ۲۰ مه د جلال اباد ښار د ميديوتيک په انګړ کې جوړه شوې وه پرانيسته يې محمود خزان د قران پاک د مبارکو اياتونو پر تلاوت وکړه، مشري يې انجينر راحت ګل سوکال کوله مېلمه يې امين الله ملاخېل و او د کوربه پر څوکۍ نقيب احمد اتل ناست و. د دريځ چارې جمال ثاقب سره وې او کزارش يې ايمل مرٍوند ليکه.
د تېرې ناستې ګزارش ايمل مرٍوند ولوستلو او ملګرو پرې خپل نظرونه ورکړل.
محمود خزان وويل: مرٍوند ښه ګزارش ليکي خو نن يې ډېر زيات تېز ولوستلو او د ځينو کسانو نومونه يې هم سم نه و ليکلي.
بازمحمد عابد وويل: (( زه چې کله هم د مرٍوند په عمر کې ومه نو د بهير ګزارشګر ومه او ما به ټوله اونۍ په ګزارش ليکلوکار کاوه، چې لږ وخت به مې هم پيدا کولو نو يو برخه به مې ليکله.((
نومورې زياته کړه ګزارش ليکل ډېر سخت کار دى ځکه د نورو د خولې ټولې کرې خبرې په داسي انداز ليکل چې د تېرې ناستې تصوير وړاندې کړي لوى کار دى، خو د نيکه مرغه مرٍوند دا کمال لاندې کړى دى او سره د ډېرو زياتو بوختياوو ډېر ژر او ښه ګزارش ليکي.
باز عابد د مرٍوند د ګزارش ليکلو لاره خوښه کړه، خو ترڅنګ يې ورته لارښونه وکړه چې د ځينو تکراري کلميو د راوړلو نه دې ډډه وکړي.
راحت ګله سوکال وويل ګزارش يې خوښ شو، خو په يو ځاى کې ګزارشګر د ځواب خبرې راخلي وايي: ((ځواب بيت خوښ کړ. په خبره يې کليوالي انځورونه په کې دي او ريښتيا هم په هيواد کې ډزو ډوز او انقلابونو په غرونو کې شپونکى او نغمې ورکې کړي دي، نو په بيت کې يو ارمان شته دى.((
هغه زياته کړه دلته د ځواب په خبرو کې د (( ريښتيا هم)) جمله داسې راغلې چې لوستونکي فکر کوي چې ګوندې د ګزارش ګر خپل نظر دى.
پر ګزارش له خبرو ورسته د توکو د اروزونې په برخه کې بازمحمد عابد ((واده تيار دى)) تر سرليک لاندې خپله لنډه کيسه ارزونې ته وړاندې کړه.
عابد په خپله ليکنه کې د يو پېښورې ځوانان چې کوژده يې کړې وې او واده ته په تياري بوخت وې د ژوند کيسه کوې خو د هغه په خپله ژبه او خپله خوله.
دلته د عابد صيب کيسې ته تم کيږوچې کتې مټ رانقل شوې:

خپله بد قسمتي خو هلته رامالومه شوه چي اته کلن به وم چي پلار مي په حق ورسيد. د ځواني خور او تور سرې مور ذمه واري راترغاړې شوه. اوس هم چي کله د سکول ماشومان وګورم چي د کتابونو بستي يې شاته اچولي وي، په ايمان چې خپل ماشومتوب راياد شي. ايله له کچي نه پېلی ته تللی وم او د الف انار، ((ب)) بسته آوازونه مې په مزغو کې ازانګې کولې. د پلار له مړينې به مې لا يوه هفته نه وه پوره شوې چي مور مې له سکول نه و ايستم او د مهربان مستري ته چې مور سره په ګاونډ کې اوسيده وروستم او په شاګردی يې ورسره کينولم.

له هغې ورځې را په دې خوا دا دی شل کاله ووتل، چې زه يم او په ګريسو او تيلو ککړې جامې دي. دا اوس چې هم ارګمی اچوم له خولي نه مې د تيلو وږمه ځي. د ځوانی د مستی نه مې په ايمان کې هيڅ مزه اخيتسي وي. خو څه وکړم، نا چاري ده، زموږ روزي به يې په همدې کې ليکلي وي. خو بيا هم په هر حال شکر ايستل په کار دي. د خدای کرم دی چې د مهربان استاد په څير خواخوږې مو شته دی.

څو ځلې مې پخه اراده وکړه چي يوځل دا خپله چنغله تر کوره کړم، نو سمدستي به مې خورکی چيرته په ښه کورنی کې خوندي کوم. خو تراوسه معاملې سر نه دی

نيولی. خو دا ځل مې د واده کولو ضد کړی دی او هرڅنګه چي کيږي، دا ضد به تر سره کوم.

سهار چي څنګه له خوبه پاڅيدم، مورجانې ته به مې ووايم چې خوابنې کره کې لاړه شي، نن لسم دی، بس چي راروانې پېلي ته ترې د واده نيته واخلي. خورکی ته مې ووايم چي بيټک ووينځي او يوه لويه دری په کې اواره کړي. نور څه نه بس يو ديک او ټيپ ريکارډر ته ضرورت دی چي د هندي فلمونو ګانې په کې په لوړ غږ وغږوم چي پته يې ولګي. ورځ دوه دې په کوڅه کې د پرپرکو په لګولو ولګي. بيا هم دوه درې هفتي په کې شته. چي يو ځل کوڅه رنګينه کړم بيا دې د ولس يو ځای لاس خلاص وي او د پوليس بل ځای. بيا نو موږ ته په هوجره کې په جواری باندې څوک څه نه شي ويلی. چي واده څو رارسيږي په پرکې به مې کافي مال راټول کړی وي، چې د واده يو څه بوج خو پرې اوچت کړم کنه. د فرنيچرو له غم نه خو مې لا دوه کاله پخوا خوابنې بې غمه کړی يم. د سونې له غمه هم خلاص يم، يو څه خو مې د مورکی له واده نه راته پاتي ده او يو څه چې مې د خسرګنی ډيماډ دی هغه مې مور لا پخوا په اندرشهر کې د يوه زرګر سره خبره کړې ده چي د سر ټيکه او قيمتي هار به د څه وخت له پاره په کرايه راوړي.

خوړې ته مي هم چرت نه دی خراب. مهربان استاد راسره له پخوانه پخه وعده کړې ده چي زوی يې له دوبی نه راشي، نو پوره شل زره روپۍ به راته په پور را کوي او دا دی دا څو يمه ورځ ده چي زوی يې له ډير مال سره له دوبی نه د دوه مياشتو په چوټی راغلی دی.

خو بيا هم د نورو ميلو تيلو له پاره پيسو ته ضرورت شته. د واده نه يوه هفته مخکې به مې د تروری زوی ته ووايم چي له محلي نه شل پنځه ويشت سرمست ځوانان راټول کړي او نکريزي راته راوړي. زه به مې هم خورکی ته ووايم چي په محله کې تولې همزولي جينکی نکريزو ته راوغواړي. خيشته جينی به په کې خوښه کړم چي ځوانانو ته نکريزي په ګوته پورې کړي. دې خبرې ته تولی خوشحاليږي، يوه هم په کې انکار نه کوي. او چي يو ځل يوه ځوان ته په ګوته نکريزي پورې کړي او بيا ترې ګوته په موټي کې کلکه ونيسي، مجال شته چې د سلو نوټ ورنه کړي. بلا پيسې به راټولې شي .

که څه هم د نکريزو پيسې د هغه چا وي چې څوک يې راوړي، خو د تروری زوی مې دی، په نيمايي خو به يې راسره ومني. او که يو ځل د محلي ځوانانو د نکريزو مزه واخيسته، بيا ګوره چي د واده تر شپې پورې له نکريزو نه خلاص نه شم، خو هر يو سره به يې په نيمايي خبره پخوم، چي کم از کم درې څلور ګلينه ټره، لس دولس تولې چرس او اوه اته ګټي کارتوس خو پرې وشي. اخر واده دی کنه، چي دا ياران خو په کې څه موج ميله و کړي. د تروری لورياني مې چي له خورکی سره په سده

ګرځيدې ورته به ووايم چې په څلورمه محله کې هم ست وکړې، هسې نه هم خلک دومره اوزګار نه دي چې پردو ودونو ته لاړ شي، خو د ناوې سده خو به مو پرې واوړې، يو څه
اندازه پيسې په دې هم لاس ته راتلی شي. د ډماڼو خو څه کمی نه شته، له کله نه چې د طالبانو حکومت په کابل کې راغلی دی، د کابل ټولو ډماڼو پيښور ته مخه کړې ده او بې پيسو ودونو ته ځي، او ځنګه به نه ځي زرګونه روپۍ په ميدان کې راټولوي، خو له داسې يوې ډلې سره خبره کوم چې د ميدان پيسې راسره په نيمايي ومنې. زه به هم ورته له ډبګرۍ نه دوه درې خيشته هجراګان راولم چې ميدان د ګونګروګانو په شرنګا کې لوټ کړي.
بس نور يې نه ځنډوم او نه بلې موقع ته ګورم. سخرګنۍ ته مې هم شرمينده يم او ځنګه به شرمينده نه يم، دا څلورم کال دی چې چنغله مې د پلار په کور ناسته ده. اخر د پښتو ملک دی، پښتونولي ده. د ټکمارانو يارانو پيغورونه هم نور نه شم برداشت کولی. بس نور رانه صبر نه شي. سهار وختي چې له خوبه پاڅيدم مورکی او خورکۍ ته مې وايم چې بيتک ووينځي او خپله ډاريک د مهربان استاد کور ته ورځم او ورته وايم چې په خپلې کړې وعدې وفا وکړي چې واده تيار دی .

پر کيسه د خبرو پيل ضاالدين همت مل وکړ. وې ويل د عابد د نورو کيسو په شان دا کيسه هم ښکلې وه، خو ځيني کليمات په کې د نورو ژبو کارول شوي وو .
راحت ګل سوکال وويل د عابد ټولې کيسې ښکلې دي او له ځان سره ډېر زيات عيني انځورونه لري چې له امله يې لوستونکی سم ورسره ګرځي.
زياته يې کړه دا کيسه يې هم د نورو په شان ډېره انځوريزه ده او تر پايه لوستونکی له ځان سره ساتي، خو ولې پای يا د اوج نقطه يې نه لرله او يا خو ورته د ده پام شوی نه دی.
سوکال د همت مل په ځواب کې وويل: چې عابد د يوه پېښوري ځوان کيسه کوي او د هماغه په خپله ژبه او خپله خوله لګيا دی.
محمود خزان هم د سوکال د خبرې ملا تړله ويل يې چې کيسه ډېره انځوريزه او د اوريدو پر مهال يې فکر کولو چې ګوندې تر دې وړاندې هم ورته چا دا کيسه کړې ده.
نادر دانش هم کيسه خوښه کړه د هغه په وينا کله، چې سړی د کيسې همدا څو کرښې ولولي نو پوهيږي چې دا ژبه د ليکوال نه بلکې د کيسې د کريکټر ژبه ده.
د دانش په خبره په کيسه کې يې تر ټولو پای يا اوج خوښ شو، چې لوستونکو ته يې ګڼې پوښتنې پرېښودلې . هغه وويل کريکټر د واده لپاره ټول پلانونه جوړ کړل چې دا او هغه به کوي خو نوره کيسه خلاصيږي، په باور يې دلته لوستونکيو ته ګڼې پوښتنې پيدا کيږي چې ايا واده ځنګه شو. وشو کنه او داسې نورې...
نادر دانش وويل که کيسه پر ملګرو وپښل شوې وای، ملګرو به پرې لا ښې خبرې کړې وې.
نقيب احمد اتل هم د باز عابد د کيسه ليکنې ستاينه وکړه او زياته يې کړه چې عابد تر دې مهاله کومې کيسې ليکلي دي ټولې يې ښې دي او دا کيسه يې هم تر نورو کمه نه ده.
اتل هم د کيسې په انځوريزه برخه ټينګار کولو چې لوستونکي ته يې انځورونه مخکې کېښودل.
نوموړي د بېلګې په ډول وويل د عابد د يوې کيسې په يوه برخه کې يې لوستي وو (( کيسې په يو ځای کې راغلي دي چې پردې ودونه به يوه اونۍ مخکې موږ تودول)) د اتل په وينا ريښتيا کليوال ځوانان د خپلو دوستانو په ودونو کې له يوې اوونۍ وړاندې نه لا ستړي او ستومانه وي.
عبدالله سهار هم کيسه خوښه کړه، نوموړي په کيسه کې ځينو اضافي کليمو ته ګوته ونيوله چې بايد لنډې راغلي وې، هغه د بېلګې په توګه د کيسې يو جمله ياده کړه چې په کې ويل شوي وو(( حسر ګنې ته مې هم شرميده يم او ځنګه به شرمينده نه يم دا څلورم کال دی چې چنغله مې د پلار په کور ناسته ده )).

سهار په یاده جمله کې (( او څنګه به شرمینده نه یم)) جمله زیاته یاده کړه په خبره یې که دا ترینه لرې شي هم بسنه کوي.
د ملګرو تر خبرو ورسته خپله عابد دریځ ته پورته شو، نوموړي وویل:((دا کیسه ده او په کیسه کې رواي کریکټر غږوي چې یو پېښورې ځوان دی او په خپل کټ کې پروت دی او په خیال پلو کې د خپل واده پلان جوړوي چې په واده کې به څه کوي .
د نوموړي په وینا دا چې کیسه باید حرکت ولري او کریکټرونه له ځان سره ولري، خو دا کیسه یاد توکی نه لري ولې هڅه یې کړې ده چې د پېښوریانو د وادونو کوم دود او دستور چې دی هغه لوستونکو ته په انځوریز او کیسه ییز ډول وړاندې کړي.
د هغه په وینا په کیسه کې د زمان او مکان یادول هم ډېر اړین وي. په دې کیسه کې که په ځانګړي ډول نه دی یاد شوی خو تصویر شوي دي لکه : په یو ځای کې راځي (( له کله نه چې طالبانو په کابل حکمت شروع کړی دی)).چې دا دلته د زمان تصویر وړاندې کوي او د مکان تصویر د کریکټر له خبرو معلومیږي لکه:(( ډیمانډ، سونه)) او داسې نور...
عابد یو ځل بیا په خپلو خبرو کې وویل چې دا په ټوله معنا کیسه نه ده ځکه کیسه باید ګڼ کریکټرونه، اوج  او خوځښت ولري، خو دا کیسه یوازې یو کریکټر لري او هغه هم بې نومه.
عابد زیاته کړه یاده کیسه اوج نه لري چې د کیسې غوټه په کې خلاصه شي، یوازې یو تخیل دی او حرکت هم نه لري خو بیا یې هم تاسو او نورو لوستونکو ته خوند ورکوي لامل یې دادی چې انځوریزه ده.
د نوموړي د خبرو په جریان کې مروند د عابد نه پوښتنه وکړه: (( عابد صیب تاسو وویل چې دا کیسه  اوج، حرکت او کریکټرونه نه لري، نو کله چې په یو کیسه کې دا درې واړه برخې دومره کمزورې وي دې ته کیسه ویلی شو؟ .
عابد وویل: ((  زموږ د کیسو لپاره تیوري نږدې اتیا کاله وړاندې لیکل شوې ده او بله خبره داده، چې اول تیوري نه ده جوړه شوې بلکې اول تخلیق شوی دی او بیا ورته تیوري جوړه شوې ده که تاسو د شپون صیب کیسې وګورئ، نو تر یوه بریده له تیورۍ سره برابرې نه دي زه فکر کومه که له دې ورسته تیوري جوړونکې تیوري جوړوي همداسې د شپون صیب او ځینو نورو لیکوالو له کیسو به یې جوړوي.((
خو راحت ګل سوکال بیا د عابد له دې خبرو سره چندان جوړ نه و او ویل یې که چېرته د کیسې لیکلو ډول همداسې وي او یا شي نو لیکل به یې ډېر اسانه شي او هر سړی به د کیسې لیکلو توانایي ولري.
ځینو نورو ملګرو هم د عابد سره د کیسې د یادو شوو انځورونو په اړه بحث او پوښتنې وکړې او نوموړي ورته ځوابونه ویل.
تر ارزونې ورسته ازاده مشاعره وشوه، چې لسګونو تنو شاعرانو په کې خپل شعرونه وویل.
په پای کې وټاکل شوه چې راتلونکې اوونی به بهیروال د عبدالفهیم رحیمزي د نوې چاپ شوې شعرې ټولګې مخکتنه کوي.
غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیده.

رپورټر:  ایمل « مروند »

[www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org) –  بازگشت به صفحه اصلی